مطبوعاتي اعلاميه

پنجشنبه د ۱۳۸۹ د سرطان ۱۷

**د کابل د کنفرانس په درشل کي افغان وزيرانو او نړيوالي ټولني سره وکتل**

ښاغلي حضرت عمر زاخېلوال د افغانستان د ماليي وزير وويل : «افغان لومړيتوبونه د افغان ولس له پاره» هغه څه دي چي د افغانستان په اړه د نړيوال کنفرانس (د کابل کنفرانس) د تمرکز ټکی به وي.

ډاکټر زاخېلوال د انسجام او نظارت د ګډ بورد د څوارلسمي ناستي په پای کي – چي مشري يي د ښاغلي زاخېلوال تر څنګه د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي خاص استازی ستفن دی ميستورا کوله – دغه څرګندوني وکړي. په دي ناسته کي د افغانستان نړيوالو مرستندويانو د حکومت له خوا د ملي لومړيتوبونو پر اعلام غور وکړ.

د انسجام او نظارت د ګډ بورد د ناستي موخه د کابل تاريخی کنفرانس ته د زميني برابرول دي. دا لومړنی ستر نړيوال کنفرانس دی چي د سرطان په ۲۹ په افغانستان کي جوړېږي.

د حکومت له پاره د کابل د کنفرانس هدف دا دی چي د خدمتونو د لا ښه وړاندي کولو له لاري د خلکو په ژوند کي د پام وړ ښه والي د راوستلو، د متوازنو اقتصادي فرصتونو د پيدا کولو او د ملي ثبات له پاره خپل لومړيتوبونه وړاندي کړي او دنړيوالي ټولني له پاره به دا يو فرصت وي چي خپلي مرستي له دغو لومړيتوبونو سره همغږي کړي. دا کنفرانس د نورو مرستو د جلبولو له پاره يو بل کنفرانس نه دی. دا کنفرانس به نړيوالي ټولني ته فرصت ورکړي چي د افغانستان په مشرتابه – له فساد سره د مبارزي، پر خپلو پښو ولاړ ملي امنيتي ځواک د جوړولو او د بوخلايني او بيا ادغام د پروسي، چي په ترڅ کي به يي مخالفين وکړای شي چي وسلي کښېږدي، د پرمخ بيولو په ګډون – د لومړيتوبونو د طرحي ملاتړ وکړي. دا کنفرانس د لندن د کنفرانس او د واشنګټن، توکيو او مادريد د ليدنو کتنو په دوام د دغي پروسي ملاتړ لا پياوړی کوي.

د انسجام او نظارت د ګډ بورد په ناسته کي پر څلورو اساسي ټکو بحث وشو : اقتصادي پرمختګ (د کارموندني د فرصتونو ښه کول)، حکومتداري (د خدمتونو د وړاندي کولو ښه کول) امنيت، سوله او پوحلاينه (د سولي د ملي مشورتي جرګي په دوام) او سيمه ييزه همکاري (د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي اړيکي).

د مګرو ملتونو د عمومي منشي خاص استازي ستفن دی ميستورا د حکومتدارئ، ټولنيزي او اقتصادي ودي، سولي او امنيت له پاره د ملي لومړيتوبونو په ۲۳ پروګرامونو کي د افغان حکومت د رهبرئ هرکلی وکړ. هغه وويل : «دا پروګرامونه د افغاني مشرتابه او مسووليت پر لور د انتقال خورا ښه نخښه ده».

د کابل کنفرانس د ۱۳۸۹ د سرطان په ۲۹ د افغان حکومت او ملګرو ملتو تر ګډي مشرئ لاندي جوړېږي. تر اوياوو د ډېرو هېوادونو د باندنيو چارو وزيران او لوړپوړي چارواکي به په کي برخه واخلي.

عزيز شمس د ماليي وزارت ويندوی **0799326383** **0202103620**